مؤسسه تحصیلات عالی جهان
JAHAN INSTITUTE OF HIGHER EDUCATION

دشرعیاتوپوهنځی

دفقه اوقانون څانګه

# دحدیث سولې څېړنه

څېړونکي:

قاری عتیق الله (نیازي)

قاری محمد قیس (نیازي)

دجهان پوهنتون دشرعیاتو دپوهنځی لومړی سمستر محصلین

کال ۱۴۴۴/۱۱/۱۰ هجـ ق

Zahirniazi55@gmail.com

## لنډيز:

الله جل جلاله انسان پيدا کړ نو ده ته يې دوه لارې و ښودې يوه نيکه بله بده او ددې دواړو په اختيارولو کې يې هم ور ته اختيار ورکړ چې بالاخره ددوي په خپلو کې سخت اختلاف ته ورسيدل نو يو بل باندې يې مستقيماً حملې شروع کړې، چې ددې دحل لارې چارې هم ورو ښودې نو سوله هم يوله هغه لار و چارو نه ده چې دغه منازعه پرې حل کيږي.

سوله الهي نعمت دی چې په برکت سره يې انسان دژوند په هدف پوهيږي او دارمتيا ساه اخلي په همدې وجه اسلام کې سوله له يو خاص اهميت څخه برخمنه ده.

دحديبې سوله هغه سوله ده چې دی سولې ټول شرايط، مضامين او قواعد پکې تشريح او بيان شوی.

کليدی کلمات: سوله، حديبيه، تړون

ومن الله التوفيق

بســــــــــم الله الرحـــــــــــمن الرحـــــــــيم

## سريزه:

**الحمد الله والصلاة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين وعلى اله وصحبه اجمعـين**

**امابعد:**

داسلامي امت دځوانانو او په خاصه توګه طالب العلمان او محصلینو لپاره دا ضرروي ده چې دخپل پیغمبر جناب نبي کریم صلی الله علیه وسلم په سیرت خه پوهه او درک ولري ترڅو خپل ژوند په دغه تګلاره وڅاری او ورڅخه دژوندانه تولو برخوکې مستفید شي.

نومونږ هم وغوښتل چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دسیرت یوه مهمه برخه چې دحدیبې سوله ده او سیاست مدنی پکې په خه شکل تشریح او بیان شوی دبحث لاندی ونیسو.

روښانه ده چې مونږ کې دا صلاحیت نشته چې پدی موضوع بحث وکړو ځکه دا لوی علمی صلاحیت غواړي چې په ماکې نشته بناءً الله تعالی دمونږ ته توفیق راکړی ترڅو دا موضوع په خه شکل روښانه او تشریح کړو.

**دخيرنـــي ارز ښـــت:** ســـوله دانســـانانواو پــه خـــاص دول دمســـلمانانو پــه ژونــد كـــي مهــم رول اوارزښـــت لـــرى چـــي دغـــه ارزښـــت اســـلام مبـــارك ديـــن دنـــن څـــه خـــوارلس كالـــه مخكـــي پـــه پـــوره معنـــا تشـــريح كـــرى او دســـولي دچـــتر لانـــدى ژونـــدكـــول يـــي بشـــريت تـــه ښـــودلى. (وَالصُّـــــلۡحُ خَـــيۡرٞ)(١)

**موخــه:** دنـــبي كـــريم صـــلى الله عليـــه وســـلم ژونـــد زمـــونږ لپـــاره يـــوه ښـــه نمونـــه ده لكـــه څنكـــه چـــي الله تعـــالى فرمـــائي (لَقَـــدۡ كَانَ لَكُـــمۡ فِـــى رَسُـــولِ اللهِ أُسۡـــوَةٌ حَسَـــنَةٌ) (٢) بنـــاءً مـــونږ تـــه لازمـــه ده ددغـــى ســـتر شخصـــيت دژونـــد پـــه ســـياسى، اقتصـــادى، اجتماعی او انفرادی حالاتو ځان خبر كړو.

ترڅـــو دمســـلمانانو خپـــل منځـــی ســـتونزي او نـــاخوالي حـــل او فصـــل شـــي او داســـلام مبـــارك ديـــن لـــه د ښـــمنان ســـره پـــه ســـياسى دكركـــي لـــه داسى سياســـت څخـــه كار واخلـــو لكه څنكه چې دحديبي تړون كي تشريح شوى ده.

نو اړينـــه ده چـــي مســـلمانانو تـــه وخـــت پـــه وخـــت پـــه نبـــوى ارشـــاداتو پـــوره لار ښـــونه وشي.

---

١-سورة النساء اية(١٢٨)

٢-سورة احزاب ايه (٢١)

## تکلاره:

مونږ هڅه کړي چې موضوع سره سم په لنډ او مختصره بڼه خپرنه راغونډه کړو ترڅو ویونکې ته په لوستلو کې ستونزه نه وی او کوښښ موکړی چې دموضوع مطابق دقـــیق ،کره او صحیح معلومات تشریح کړو.

## پوښتنې:

١. دحدیبې واقعه په کوم کال کې رامنځته شوه؟
٢. په دغه سوله کې کوم کوم تړون دمسلمانانو اویهودو ترمنځ وشول؟
٣. دسولې دلیك په جریان کې دکفارو استازی څه نومیدو؟
٤. هغه کوم شرط وه چې دصحابه کرامو دغوصي سبب شو؟

### دخیړنې مطالب:

دامقاله لنډیزه، سریزه، دوه مباحث، څلور مطالب، خلاصه، لره شامله ده

### اول مبحث: مفاهیم اوکلیات:

اول مطلب: لغوی تعریفات

الف: حدیبې لغوی تعریف:

حُدَیْبِیَّه یاخو دمکې او جدې ترمنځ یو کوهې ده او یاهم د (حدباء) په نوم یوه ونه ده چې په دی نوم یادیږی (۱)

ب: دسولې لغوی تعریف:

سوله یا صلح عربی کلمه ده چې په ګڼو منعاو سره ده ۱-دمنفعت او ګټې په معنا ۲-دوړ تیا او مناسبت والی په معنا ۳-داستعداد په معنا ۴-دجوړ ښت په معنا ۵-د ښه والی په معنا همداسې نور. (۲)

دوم مطلب: اصطلاحې تعریفات:

الف: دحدیبې اصطلاحې تعریف:

دمکې نه لری واټن کې یو کوهې (څاه) ده چې حدیبیه نومیږی. دحدیبی سولې ته ځکه دا نوم ورکړ شوی ده چې ددغې سولی لوظنامه په همدی ځای کی لاسلیک شوی ده (۳)

ب: دسولې اصطلاحې تعریف:

سوله (صلح) هغه ترون ده ته وایې چې جنګ شخړه او نزاع پری ختمیږي. برابره خبره ده که نزاع لفظی وی او که وسلواله (٤)

---

۱-آبادیس لغتنامه

۲- کوکل پښتو لغت نامه۳- دمشقی (۱۳۹۵هجری شمسی)

۴-کوکل پښتو لغت نامه

## دویم مبحث: دخیرنې جزئیات

### اول مطلب: د حدیبیې سوله څرنګه رامنځته شوه؟

**الف:** رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوب له لیدو څخه وروسته د هجرت په شپږم کال د ذوالقعدې په میاشت چې د شپږ سوه اته ویشت (۶۲۸) میلادي کال سره سمون خوري، د څوارلس سوه (۱۴۰۰) مسلمانانو سره یو ځای چې د عربو ځانګړي د سفر رواجي توري یې درلودې د عمرې د اداء کولو لپاره د مکې په خوا حرکت وکړ. (۱)

رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانان چې کله ذوالحلیفه ته را ورسیدل نو د قرباني اول رسم یې اداء کړ چې هغه د قربانۍ او ښانو ته پټې په غاړه کول وو. دی نه وروسته د اسلام ستر لار ښود د احتیاط لپاره یو کس قریشو ته ورولیږه چې د هغوی ارادې معلومې کړي (د خزاعه قبیلې یو سړی چې د اسلام دراوړلو حال یې قریشو ته نه وو معلوم) کله چې د مسلمانانو قافله عسفان ته نیږدې شوه هغه کس راغی او مسلمانانو ته یې خبر ورکړ چې قریشو ټولې قبیلې راټولې کړي وایې چې محمد صلی الله علیه وسلم هیڅکله مکې ته نه پریږدو، ترديې چې قریشو یو غټ لښکر تیار کړ او د مکې نه بهر راغلل او خالد بن ولید رضی الله عنه چې لا تر هغه وخته یې اسلام نه وو قبول کړی له ۲۰۰ کسانو سره د ابوجهل ځوی عکرمه رضی الله عنه په شمول د لښکر نه مخکې غمیم ته ورسیدل. (۲) نبی کریم صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته امر وکړ چې او ښان د غمیم په لور روان کړي ځکه د خالد بن ولید قریشو روغي ته رالیږلی، کله چې مسلمانان غمیم ته نیږدې شول نو خالد د آسونو ګرد ولیدل چې مسلمانان را روان دي، خالد ډیر په تیزي سره قریشو ته خبر ورکړ چې مسلمانان غمیم ته را ورسیدل، مسلمانان روان وو تردې چې حدیبیې مقام ته ورسیدل او هلته پاتې شول. (۳) د غزامه قبیلې مشر بدیل د ورقا ځوی وو (د مکې د فتحې په وخت کې یې اسلام قبول کړ) هغه د یو څو کسانو سره محمد صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته یې وویل چې د قریشو ډیر غټ لښکر را روان دی. پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته ځواب کې وویل چې لاړ شه او قریشو ته خبر ورکړه چې مسلمانان جنګ ته نه بلکې د عمرې اداکول لپاره راغلې دي، بله دا چې هغوي دي له ماسره د سولې ترون وکړي، او که چیرته په دې هم رضانه شي نو په هغه الله جل جلاله مې دې قسم

---

۱-(لمعافري,۱۳۷۵هـش-)

۲-(المبارکفوری,

۳-(البخاري,۱۴۰۷هـش) ۴-(النسابوری,۱۳۷۴هـش.)

وي چې زما سر د هغه په لاس کې دی، زه به تر هغې پورې دوی سره وجنګېږم تر څو مې چې سر له تن نه جلا شي او شهید شم. (۴) بدیل لاړ و قریشو ته یې وویل چې ما د نبي صلی الله علیه وسلم پیغام راوړی دی ما ته اجازت راکوي چې تاسو ته یې بیان کړم بالاخره ځینو پوهو خلکو ورته اجازت ورکړ او بدیل د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم شرایط وړاندی کړل.

، وروسته عروه مسعود ثقفي پاڅېد او وېې ویل قریشو! آیا زه ستاسې پلار او تاسی زما بچي نه یې؟ هغو وویل بیشکه ولې نه، بیا هغه وویل آیا زما په نسبت خو ستاسې څه بد ګماني نشته ټولو وویل نه، عروه وویل نو بسه ما ته اجازت راکړئ چې پخپله لاړ شم او دا خبره فیصله کړم ځکه محمد صلی الله علیه وسلم معقول شرطونه وړاندی کړی دی. (۱)

لنډه دا چې عروه نبي علیه السلام ته راغی او د قریشو پیغام یې ورته واورلو، عروه چې کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملګرو حالت ولیدل چې کله لاړ نو قریشو ته یې وویل ما د قیصر، کسرا او نجاشی دربارونه لیدلي خو دومره مینه مي هیڅ ځای کې نه ده لیدلي ځکه محمد صلی الله علیه وسلم چې خبري کوي نو ټول خلك غلي وي هیڅوک ورته نیغ نه ګوري چې هغه اودس کوي نو د آو داسه اوبه یې زمکی ته نه پرېږدي لاسونو کې یې را آخلی پر مخونو او لاسونو یې مښي. له دی کبله چې د خبرو اترو لړۍ نیمګړي پاتې شوه نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم خراش بن امیه قریشو ته ور ولیږه خو قریشو د هغه اوښ چې خاص د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سورلۍ اوښ وه ووواژه او خراش یې هم وژلو خو ګاونډیو قبیلو ځینې خلاص کړ. وروسته قریشو یو ټولکی خلك ولیږل چې پر مسلمانانو یرغل وکړي خو مسلمانانو هغه ژوندی ونیول او وروسته یې معاف کړل.

آخر نبي علیه السلام مکې ته عثمان رضی الله عنه ولیږه خو قریشو هغه ژوندی ونیو او بندی یې کړ، په بهرکی د عثمان رضی الله عنه د شهادت خبره خپره شوه، کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته دا خبر را ورسیده نو وېې ویل چې د عثمان رضی الله عنه قصاص اخستل فرض دی بیا وروسته معلومه شوه چې دا خبره رښتیانه وه. آخر دا چې قریش د سولې خبرو ته تیار شول، چې په یو څو شرطونو اتفاق راغی نبی کریم صلی الله علیه وسلم علی رضی الله عنه راوباله او حکم یې ورته وکړه چې یوه لوظنامه ولیکی. (۲)

۱-(دمشقي,۱۳۹۵هـ ش.)

۲.(البخاري, ۱٤۰۷ هـ ش)

**ب: د سولې ترون شرطونه:**

۱-دا ځل به رسول الله صلی الله علیه وسلم او ملګري یې مکې ته له داخلیدو پرته ستنیزي او را روان کال به د سفر د رواجي تورو سره د درې ورځو لپاره مکې ته راتلی شي خو د مکې مشرکین به دا درې ورځې له شاوخوا غرو ایسته کیږي.

۲-لس کاله به له دواړو خواوو جنګ بندي وي.

۳-د عربو نور ټبرونه که د ترون په هره خوا کې داخلیدل، داخلیدلی شي، که کومه قبیله په کوم دړله کې شامله شوه، د هماغه دړلې یوه برخه به ګڼل کیږي فلهذا که په داسي کومه قبیله چاتیری وکړ نو دا تیری به په هماغه فریق تیری بلل کیږي.

۴-که د قریشو کوم وکړی د خپل سرپرست له اجازې پرته رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وروتښتیدی، هغه به بیرته قریشو ته سپارل کیږي خو که د رسول الله علیه وسلم کوم وکړی قریشو ته وتښتیدل هغه به بیرته نه سپارل کیږي. (۱)

(د سولې د لیك په جریان کې د کفارو استازی سهیل بن عمرو د لیك د طرز په اړه اعتراض وکړ.)

۱-د لیك پیل دې د بسم الله الرحمن الرحیم پر ځای دي بسمك اللهم ولیکل شي.

۲-د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم پر ځای دې محمد بن عبدالله ولیکل شي.

رسول الله مبارک سولې ته د رسیدو په خاطر دا مطالبې هم ومنلې. (۲)

له یوې خوا اصحاب کرام رضی الله عنهم د ترون په څلورمه ماده ناخوښ ول، له بلې خوا له مکې سره تړاو درلودونکی مسلمان "ابوجندل رضی الله عنه" چې په بدن یې د کفارو لخوا د سختو شکنجو اغیزي معلومې او په پښو کې ځنځیرونه ول، په ډیره سختئ د ځان د ژغورلو لپاره تر مسلمانانو ځان را ورساوه، که څه هم دا مهال لا پر ترون لاسلیك نه و شوی خو د کفارو له ټینګار وروسته ابوجندل رضی الله عنه بیرته کفارو ته وسپارل شو، دې پېښې مسلمانان ډیر وځورول.

۱-(النسابوری، ۱۳۷٤هـ ش.) ۲-(النسابوری، ۱۳۷٤هـ ش.)

۳-سورة فتح اية (۱) ۴-(النسابوری، ۱۳۷٤هـ ش.)

## دويم مطلب: بسکاره فتحه

### الف: د سولې د تړون نه وروسته:

تر درې ورځو رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیبیه کې پاتې شو، او بیا مدینې خواته روان شو په لارکې دا آیت نازل شو (إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا) ژباړه(۳): بیشکه مونږ تاته بسکاره فتحه درکړه.

دا داسې وخت ؤ چې ټول مسلمانان سولې ته خوش بینه نه وه بلکې ټولو ورته د ناکامي په سترګه کتل، خو الله تعالی ورته فتحه وویله. کله چې عمر رضی الله عنه نبي علیه السلام را وغوښته او دا آیت یې ورته تلاوت کړ هغه تعجب کې شو او پوښتنه یې وکړه چې آیا دا فتحه ده؟ نبي علیه السلام وویل هو، (صحیح مسلم کې راغلي چې معنا یې دا ده: د عمر رضی الله عنه تسلي وشوه او زړه یې په کرار شو). (۴)

### ب: له سولې نه وروسته یې اغیزې:

په ظاهره له دې سولې د مسلمانانو مغلوبیت او ناکامي بسکاریدله، خو د حالاتو په نبض پوهیدونکی رسول الله صلی الله علیه وسلم سولې ته خوښ و، هغه پوهیدو چې په حقیقت کې دا سوله د مسلمانانو لپاره ستره بریا ده او آیت کریمه کې هم دا سوله "بسکاره فتحه" وبلل شوه. (۱) ریښتیا هم په عملي ډګر کې په ډیر کم وخت کې د سولې لویې ګټې څرګندې شوې.

۱-د سولې له برکته آزادانه تجارت، تګ او راتګ پیل شو نو د مکې مشرکین د مسلمانانو له ښو اخلاقو، او تعاملاتو دومره اغیز من شول چې د مکې په خلکو کې د مسلمانانو سلنه ورځ تر بلې زیاتیده؛ ان د خالد بن ولید، عمرو بن العاص او عثمان بن طلحه په څیر ستر شخصیتونه هم مسلمانان شول. (۲)

۲-د کفارو طاقت وویشل شو او په ډیره آسانی او لږ وخت کې مسلمانان د خیبر په فتح کولو وتوانیدل چې همدا سوله د مکې د فتحې لپاره هم لومړی زینه شوه.

۱-(المبارکفوري, ۱۴۲۷هـ ش) ۲-(دمشقي, ۱۳۹۵ هـ ش-)

۳-(لمعافري, ۱۳۷۵هـ ش- ) ۴-(الزرعي, ١٤٠٧ هـ ش)

۵-(الزرعي, ١٤٠٧ هـ ش)

۳-د سولې د تړون خلورمه ماده چې د مسلمانانو غوسې يې راپارولې وې او د خپکان لامل يې شوې ؤ، په حقيقت کې کفارو ته وروسته د روند سرخوږی جوړ کړ او په خپله کفارو د همدې مادې د بدلون لپاره زاری شروع کړې. (۳)

## ج: د حديبي د سولې درسونه او عبرتونه

۱-سوله او تړون له قران او سنت څخه اخيستل شوي احکام دي په همدي خاطر د حديبې سوله له اهمو سولو او تړونو څخه دي چې اعتماد وړ باندې کيږي ابن قيم رحمه الله ويلي ، د اسلامي شريعت د مصالحو او شرعي سياست پوري مربوط احکام لکه جنګ او سوله د رجالو له نظرياتو او افکارو څخه له اخستلو څخه غوره دا ده چې د رسول الله له سراياو او غزاګانو څخه واخستل شي. (۴)

۲-د مصلحت په خاطر د سولې غوښتنه لازين کار دی لکه څرنګه چې رسول صلی الله عليه وسلم په سوله کې مصلحت وليدل نو د سولې غوښتنه يې وکړه. (۵)

۳-د ښمنانو سره د مسلمانانو د مصلحت په خاطر د سولې مشروعيت، لکه د اسلامي دعوت خپرونه د اسلامي دولت تهداب قوي کول د عدل اقامه د ويني توييدېلو مخنيوی د نواميسو ساتنه.

۴-کله چې د سولې لاملونه پوره شي نو د دو ښمن غدر او خيانت ته نه کتل کيږي چې دوی خيانت کاران دي ځکه رسول الله پوهيدو چې مشرکين خيانت کاره خلك دي خو بيا يې هم د سولې غوښتنه وکړه.

۵-سوله د جهاد د معطليدو معنا نه ورکوي ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم له سولې نه وروسته د هجرت په اووم کال د خيبر د يهودو پر ضد جهاد اعلان کړ.

۶-جنګ بذاته هدف نه دی بلکې د دین د نشرولو د حق ثابتولو او د عدل قایمولو وسیله ده کله چې دا شیان په سولې سره لاسته راتلل کیږي نو ترټولو غوره او مناسبه وسیله سوله ده لکه چې الله جل جلاله ویلي دي ﴿وَإِن جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾(۱)

ژباړه: او که دوی سولې ته مائله شي نو ته هم مائله شه دي طرف ته او په الله توکل وکړه بیشکه هم هغه اوریدونکی او پوه دی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم: فرمایلي (أَيُّهَا النَّاسُ، لاَ تَتَمَنَّوْا لِقَاءَ العَدُوِّ، وَسَلُوا اللَّهَ العَافِيَةَ، فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا، وَاعْلَمُوا أَنَّ الجَنَّةَ تَحْتَ ظِلاَلِ السُّيُوفِ) (۲) ژباړه: ای خلکو له د ښمن سره د مخامخ کیدو غوښتنې مه کوئ بلکې له الله جل جلاله څخه د سلامتیا غوښتنه کوي کله چې دو ښمن سره مخامخ شوی نو صبر او استقامت نه کار و اخلئ او په دي پوه شئ چې جنت د تورو ترسیورو لاندې دی.

۷-فقه الموازناتو ته پاملرنه کول د مصالحو او مفاسدو ترمنځ ترجیح په همدي خاطر رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره قبوله کړه چې کوم مسلمانان له مشرکینو څخه مدینې ته راځي بیرته به واپس کیږي سره له دي چې دي شرط کې د هغو مسلمانانو لپاره چې مکه کې ول ښکاره تاوان و وخو رسول الله صلی الله علیه وسلم نوموړي ماده د ستر مصلحت په خاطر قبول کړ چې هغه د اسلامي دعوت خپرول وو.

۸-له هغه شیانو څخه د تنازل کولو مشروعیت چې د اسلامي شریعت له نصوصو سره په ټکر کې نه وي لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغو امورو څخه تنازل وکړ چې سهیل وربانديې اعتراض وکړ.

۹-په سوله کې د مشرکینو د وساطت جواز: لکه بُدیل بن ورقاء د خزاعه قبیلې مشر و.

۱۰-د جنګ په حالت کې د غیر جنګي کفارو څخه د مرستي غوښتلو جواز لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم بسر بن سفیان چې کافر وو د مشرکینو د حالاتو معلومولو لپاره ولیږل چې نوموړي کس د مشرکینو حالت معلوم کړ او راغی رسول الله ته یې وویل چې مشرکین ټول راجمع شوي غواړي ستا مخه ونیسي او بیت الله ته دې پری نږدي

---

۱-الأنفال: ٦١آیت

۲-(السجستانی, ١٤٣٠ هـ ش)

۱۱. د مصلحت په خاطر له غیر مسلمانانو سره ترون کول لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم له خزاعه قبیلې سره ترون وکړ.

۱۲- د شورې مشروعیت په همدې ډول هکله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پوه شو چې مشرکین یې له عمرې کولو څخه منع کوي نو له صحابو رضی الله عنهم څخه یې مشوره وغوښتل چې دوی خوزمونږ مخنیوی کوي آیا په دوی باندې حمله وکړو که دوی مقابلې ته راشي نو وبه یې وژنو او که مقابله ونه کړي نو دوی به ذلیله او خوار په خپل حالت پریږدو نو دلته ابوبکر رضی الله عنه وویل یارسول الله تا خو د عمرې نیت کړی د چا قتل او د جنګ اراده نه لرې نو د بیت الله خوا ته حرکت وکړه که څوک زمونږ مخې ته ودرېدل نو وژنو به یې او که نه نو خپله عمره به وکړو نو رسول الله د ابوبکر رضی الله عنه مشوره ومنله او روان شوه. (۱)

۱۳- د میرمنو څخه د مشورې آخستلو مشرعیت لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د ام سلمې رضی الله عنها مشوره ومنله، خپل سرېې وخریلو او هدیه یې حلاله کړه چې په دې کار سره ټولو صحابو سرونه وخریل او اوښان یې ذبح کړل.

۱۴- په دین باندې د شریعت د ضوابطو او اصولو مطابق غیرت کول.

۱۵- آمر باید خپل ملت د سولې په مصالحو باندې پوه کړي لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته په پوره نرمښت سره وویل إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ، وَلَسْتُ أَعْصِيهِ وَهُوَ نَاصِرِي (۲)

ژباړه: زه د الله رسول یم نافرمانی یې نه کوم او هغه مې مرسته کوونکی دی او عمر رضی الله عنه ته یې په جواب کې وویل (فَإِنَّكَ آتِيهِ وَمُطَّوِّفٌ بِهِ) (۳)

ژباړه: ته به بیت الله ته ورځې او طواف به ورباندې کوې.



۱-(البخاري, ۱٤۰۷ هـ ش)

۱۶-د ښځو ایستل له دي شرط څخه چې د دو ښمن تر سلطي لاندې پاته شي او یا کفارو ته بیرته وکړ ځول شي، له همدې وجي کله چې مکې څخه ځینو ښځو مدینې ته د سولې څخه وروسته هجرت وکړ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرته مشرکینو ته ونه سپارل چې په اړه یې لاندې مبارک آیت نازل شو ه (یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا إِذَا جَاءَکُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوهُنَّ اللَّهُ أَعْلَمُ بِإِیمَانِهِنَّ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَاتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى الْکُفَّارِ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ یَحِلُّونَ لَهُنَّ وَآتُوهُم مَّا أَنفَقُوا وَلَا جُنَاحَ عَلَیْکُمْ أَن تَنکِحُوهُنَّ إِذَا آتَیْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ (۱)

ژباړه: ای ایمان والو هر کله چې تاسو ته مومناني ښځې مهاجري راشي نو د دوی امتحان واخلئ الله ښه پوه دی په ایمان د دوی که چیری تاسو معلومي کړي چې دوي مومناني دي پس مه واپس کوئ دوی د کافرانو طرف ته، نه دغه ښځي کافرانو ته حلالي دي او نه کافران هغوی ته روا دي او کافران ته ورکړئ هغه څه چې هغوی په دي ښځو نفقه کړي وي او په تاسو هیڅ ګناه نشته که تاسو هغوی سره نڪاح وکړئ خو هغه وخت چې د دوي مهر ور ته ورکړئ.

۱۷-په وعدې باندې وفاکول لڪه څنګه چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم (فرمایلي دي (إِنَّا قَدْ عَقَدْنَا بَیْنَنَا وَبَیْنَ الْقَوْمِ صُلْحًا، فَأَعْطَیْنَاهُمْ عَلَى ذَلِكَ، وَأَعْطَوْنَا عَلَیْهِ عَهْدًا، وَإِنَّا لَنْ نَغْدِرَ بِهِمْ. (۲)

ژباړه: یقیناموږ. او دوی (مشرکین) ترمنځ د سولې تړون ترسره کړه موږ. به دوی ته او دوی به موږ. ته د دي سولې حقوق آداء کوي او موږ. به هیڅ کله له دوی سره خیانت ونه کړو.

۱۸-هغه مسلمانان چې په دار کفر کې اوسي د تړون په اړه په وفاڪولو ملزم نه دي لڪه هغه مسلمانان چې مکه مکرمه کې سخت تنګ شول آخر د ښتیدل خو مدینې ته رانغلل بلڪې د مکې او مدینې ترمنځ یو ځای کې دیره شول چې د مشرکینو په کاروانونو باندې یې حملې کولې.

۱-سورة ممتحنه لية (۱۰)

۲-(السجستانی, ۱٤۳۰ هـ ش)

## نتیجه:

پورته موندونو ته په کتو سره چې سولې ته اسلام ارز ښت ورکړی چې د حدیبیې سوله یې ښکاره دلیل دی او دا چې سوله کې کومي ګټې نغ ښتي دي هیڅ عاقل انسان ورڅخه سترګې نه شي پټولی د سولې یو ارز ښتناکه ګټه هغه د انسانیت لپاره پکښې خیر دی ځکه الله جل جلاله ورته په قران کریم خیر ویلی (والصلح خیر) او دا چې د الله د کلمي لوړ والی د سولې له لاري کیږي نو تر ټولو غوره لاره یې همدا ده ځکه بې له وینو تویدلو او ستونزو څخه د اسلامي شریعت موخه تر لاسه کیږي او سوله کښې امن وي ښکاره دلیل یې د مدینې منوري د مسلمانانو از اد تجارت کول تر دي چې مکې مکرمي ته به پوره امنیت سره دوی تلل هیڅ کوم مشکل به نه ؤ په سولې سره د انسانیت وینه، ناموس ، عزت او ابرو خوندي وي چې دا یې ستر ګټه ده او همدا رنګه د سولې په بنسټ سره انساني ټولنه له هر لحاظه پر مختګ کوي لکه علمي او اقتصادي پر مختګ او نور

## پایله:

د دې څیړنې په بهیر کې لاندې پایلو ته رسیږو:

۱-اسلام د سولې او امن یو مبارک دین دی.

۲-سوله د مسلمانانو لپاره د پر مختګ سبب ګرځي

۳-سوله د اسلامي دعوت د خپراوي لپاره غوره وسیله ده.

۴-په سوله کې خاصتا هغه وخت چې مسلمانان کمزوري وي د مسلمانانو وينې عزت او مال د ژوغورنې او ساتنې غوره وسيله ده.

۵-په سوله کې د هغه شرايطو بسودل چې د اسلامي شريعت له نصوصو سره مخالفت ونه لري جواز لري.

۶-د اسلامي امت آمر بايد د مسلمانانو مصالح درک کړي او د عمل په ډګر کې يې عملي کړي.

۷-د اسلامي امت آمر د سولې کتبي بايد خپل ملت ته په پوره شفقت او حوصله مندۍ سره بيان کړي.

## اخذليكونه:


١. بخاري,م.ب. (١٤٠٧-١٩٨٧). [صحيح البخاري] ج١ص٩٥-٨٩-۴۵-٨۴. اليمامة-بيروت دار ابن كثير.

٢. دارلطبراني,س.ب. (١٤١٥هـ). المعجم الكبير ج٣ ص٨٧ ط. القاهرة:

٣. ذهبي,ش.ا. (١٩٩٣م). تاريخ الإسلام ووفيات المشاهير والأعلام ج٨ص/٩٨، بيروت: دار الكتاب العربي.

٤. زرعي,م.ب. (١٤٠٧-١٩٨٦). زاد المعاد في هدي خير العباد ج١ص٨٧-٨٩-٦٧-۴۵ الكويت: مؤسسة الرسالة -مكتبة المنار الإسلامية-بيروت-الكويت.

٥. شيباني),أ.ع. (١٩٩٥). مسند الإمام أحمد بن حنبل ج١٥ص۴۴٣. مؤسسة الرسالة.